# دچین شاعرلي بائي نظمونه

د لي بائي شمار د چین په نامتو شاعرانو کښې کېږي. هغه په کال ۷۰۱ کښې پیدا شوے وۀ. دا په چین کښې د ټېنګ سلطنت زمانه وۀ. د دۀ په کلام کښې زیات تر قدرتي منظرونه، د ملګرتیا خوندونه، او د شراب سره د مینې ذکر دے. کومې قیصې چې د دۀ په باره کښې مشهورې دي په هغې کښې یوه د دۀ د مرګ قیصه دۀ. وئېلے شي چې یوه شپه چې کله دے په کشتۍ کښې روان وۀ او د سیند د یخې هوا نه ئې خوندونه اخستل. په اوبو کښې ورته د پوره سپوږمۍ عکس ښکاره شۀ. دغه وخت دے د شرابو په نشه کښې وۀ. په سین کښې د سپوږمۍ عکس ته په ځان نه پوهېدۀ او د هغې د تر لاسه کولو په هڅه ئې اوبو ته ټوپ کړۀ. او دغسې چین د خپل د ټولو نه د ښۀ شاعر نه محرومه شۀ. (غالباً چې په دې قیصه کښې څه وزن نشته او دا د لي بائي په شان د قدرت یو عاشق د ځانه وئیلي وي.

### ۱. په غلي شپه کښې راتلونکي خیالونه

د بسترې نه پرقیږدونکې سپوږمۍ ښکاري

سوچ کوم چې دا په زمکه پروت غمےخو نۀ دے؟

د کټ نه سر اوچت کړم او سپوږمۍ ته ګورم

بیا بېرته سر ټیټ کړم، چې ماته خپل وطن یادېږي.

### ۲. په غرئیز مندر کښې تېره کړې شپه

د منارې لوړوالے سل فټه دے

د هلته نه چې لاس وروغزوې ستوري راشوکولے شې

زړۀ نۀ شته په ما کښې چې زۀ په اوچت غږ خبرې وکړم.

چرته د جنت اوسېدونکي په عذاب نۀ شي

**۳ . د جنک تنګ شان په غونډۍ زۀ.**

لرې په هوا کښې د مارغانو سېل.

يو يک يوازې ورېځه اوتره اوتره

مونږ دوانه يو بل ته په ګورو او روان يو.

نۀ هغه بوډۍ شوه نۀ زهږ

مونږ دواړه يوازې يو

جنک تنګ او زه

***************

**ژباړه: ډاکټر اباسين يوسفزے**

KAHANI CHAMAN
کہانی چمن